مسئوولیت متن و شکل بدوش نویسندهٔ مضمون میباشد، عقیدهٔ نویسنده لزوماً نظر افغان جرمن آنلاین نمی باشد.

محمدزمان ستانکزی ۲۰۱۸/۰۶/۰۷

پوهنیز نظام هر اړخیز بدلون غواړي

د هر هېواد د پرمختګ او بقا راز د هغه هېواد دخلکو په زدکړو او تعلیم کي نغښتی دی. پوهنه د هر هېواد د ملا تیر جوړوي، او نن سبا چي کوم لوی زبرځواکونه ګورئ، پرته له دي چي تعلیم ته یي ډېر پام کړی وي نور کارونه نه دي کړي. افغانستان هم د دي خاورینی ځمکي د یوي وړي او نه شلېدونکي برخي په توګه اړ دی چي د پرمختګونو او هوساینې لپاره تعلیم ته مخه کړي. نوي نظام کي افغانستان کي د ډالرو باران وشو، میلیاردونه ډالر ښکته او پورته شول. په پوهنیز نظام هم ډېرې پیسي ولګېدي، خو لکه چي تمه وه او تمه کېده پرمختګ ونه شو، پوهنیز نظام مو له ډېرو نیمګړتیاو ډک دی. ډېرې ستونزې لري. د بیلګي په توګه پښتو او دري کتابونه د زده کونکو پوهي ته په کتو نه دي چمتو شوي، ډېر پاخه او مغلق شعرونه ټیټو ټولګیو ته چاپ شوي چي د زده کوونکو لار یي ورکه کړي ده. اووم ټولګي کي ۱۶ مضمونونه تدریس کیږي چي که کتابونه سر په سر کړي، یوه بستره تري جوړېدای شي. د انګلیسي ژبي تر څنګ دي ټولګي کي عربي هم تدریس کیږي چي اتم او نهم کي فکر کوم عربي نشته خو ثانوي دوره کي بیا دا مضمون زیاتیږي. د عربي اړتیا نشته، د دي پرځای باید په ملي او رسمي ژبو ډېر کار وشي. ولسمشر ښي مسالي ته متوجه شوی او د پوهنیز نظام د کال پرانیسته کي یي ژمنه کړي وه چي درسي کتابونه به کموي. دا ډېر ښه وړاندیز دی خو که عملي شي.

د پوهنیز نظام بله ستونزه ناامني ده، رسمي شمېري ښیي چي د هېواد په کچه له څه باندي اولس زرو ښوونځیو څه باندي زر یي بند دي چي ډېر دا ښوونځي په کندهار، ارزګان او هلمند ولایتونو کي پراته دي. دا یو لوی ناورین دی او پوهني وزارت وایي چي نږدي څلور میلیون کسان چي د زدکړو په شرایطو برابر دي، ښوونځیو ته نه شي تلای. ولسمشر او د ملي یووالي حکومت ته په کار ده چي دي برخه کي ډېر کار وکړي، په ټولو کي د یوه ملت د پرمختګ راز زدکړې دي. وایي په جاپان چي کله امریکا اټم بم استعمال کړ، دغه هېواد ډېر زیانمن شو، تر برید وروسته د کابینې په لومړنۍ غونډه کي د هېواد د پرمختګ په لارو چارو خبري وشوي او فیصله په دي وشوه چي په پوهنیز نظام به پانګونه کیږي، نن سبا جاپان ګوره کوم سرحد کي دی.

افغانستان د قومونو او جرګو وطن دی، افغانان هم لکه نور نړیوال ښه او هوسا ژوند غواړي او دا ژوند هغه مهال شونی دی چي تعلیم عام شي. په بېرته پاتو کلیوالي سیمو کي نجوني یواځي حق لري چي بغدادي قاعده او قران کریم زدکړي، نور اجازه نشته، خو جالبه لا دا ده چي د همدي کلیوالو ښځي، میندي او خویندي د ښځینه ډاکټرانو پر ځای نارینه ډاکټرانو ته مراجعه کوي او حتی د ماشوم زیږون د نارینه و ډاکټرانو تر مستقیم څار لاندي تر سره کیږي.

ښه نو مونږ په دي مفتو خبرو غولیدلي یو، پښتون یم څنګه خپله لور او خور بهر ته د زدکړو لپاره پریږدم، ښه که ته دي برخه کي پښتون یي، دي برخه کي هم پښتونولي وکړه چي مایي مخکي ذکر وکړ. د لویي پکتیا، لوی کندهار او په ټولو کي پښتانه ولسونه ډېر بېرته پاتي دي، د دي لپاره چي خپل برخلیک په خپل لاس کي واخلي، ولسي جرګه او حکومت کي خپل خپل استازي ولري، نو مهرباني دي وکړي ځان دي د ټکنالوژۍ له دي روان انقلاب سره یو ځای کړي، دا به ښه وي چي دي کاروان کي دغه خړ پړ او شدل پښتانه ور ګډ شي، د افغان ولس میړنی تېر زما په نظر هزاره ورونه دي، دوي خپلو کي ډېر ښه اتفاق لري، د ډېرو یي چي اقتصاد صفر کي دی، ماشومان او اولادونه منظم تعلیم کوي، اوس هري دولتي او نادولتي ادارو کي د دي خلکو حضور پراخ دی او لا پراخیږي چي یو ستر علت یي همدا زدکړې دي.

حکومت ته په کار ده چي ټولو افغانانو ته د زدکړو خوندي او مناسب چاپیریال برابر کړي، خلک نوردي برخه کي باید ونه ځورول شي. په پوهنیز نظام کي یوه لویه ستونزه د مسلکي ښوونکو کموالی دی، بله لویه ستونزه ورته مضمونونه دي، د دي برخي هراړخیزه اصلاح په کار ده.

تر څنګ یي مونږ باید د زدکړو سراسري توب ته پاملرنه وکړو، کوم ښوونځي چي ترلي، باید پرانیستل شي، ښوونځي باید نور د سیاسي او پوځي موخو قرباني نه وي، نه دي حکومت تري د سیاسي آلي په توګه کار اخلي او نه هم

افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکني د لیکنیزې بني پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکي په ځیر و لولئ

وسلوال مخالفین د حکومت د کمزورتیا د ټکي په توګه. داعشیانو وروستیو ورځو کې ګواښ کړی چې په جلال آباد کې به په ښوونځیو بریدونه کوي. دا ګواښ د داعش نه بلکې د آی اس آی دی. آی اس آی اوس په وېره کې دی چې ورو ورو افغان بدلېدونکي دي، اوس زدکړې کوي او یوه ورځ به داسې راشي چې نور د پردیو لخوا ونه غولیږي، او دا هغه مهال شونې ده چې زدکړې سراسري شي، نالوستي خپل تور وزر ټول کړي، د هغې ورځې په هیله، افغانستان دې ژوندی وي.

پای

افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بنې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولئ